PROPERTY OF ACKU


# DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۹۶۵

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال - دویمه دوره، ۹۶۵ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۳۲ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د سلواغې ۲ مه - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق صفرالمظفر ۱۷ مه د ۲۰۱۱ د جنورۍ ۲۲ مه


## په سوېل کې د ناټو یو سرتېری او بل قومي مشر ووژل شو

د ناټو په مشرۍ نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ایساف) د افغانستان په سوېل کې د خپل یوه سرتېري د وژلو خبر ورکړ. دغه خبر په کابل کې د ایساف ځواکونو مطبوعاتي دفتر له خوا د سلواغې پر لومړۍ نېټه، په خپره شوې خبرپاڼې کې ورکړل شوی دی. سرچینې زیاته کړې، چې یاد شوی سرتېری د یوې بمي چاودنې په ترڅ کې ټپي شوی و او له همدې املې یې ساه ورکړه. خو د ایساف په خبرپاڼې کې د پېښې کره ځای او د وژل شوي

۳مخ

# در حاشیه سفر رییس جمهور کرزی به مسکو

حامد کرزی رییس جمهور دولت اسلامی افغانستان طی سفر دو رو روزه اش به روسیه با دیمتری میدویدیف رییس جمهور روسیه و ویلادیمیر پوتین صدراعظم و سایر رهبران این کشور ملاقات نمود.

در حالیکه کرزی پیش از این در اجلاس سران دولت ها در مسکو اشتراک کرده بود، این اولین دیدار رسمی وی بعد از انتخابش به حیث رییس جمهور در سال ۲۰۰۴ به روسیه می باشد.

کرزی در آستانه دیدار خود به تلویزیون روسیه گفت، وی در تلاش انکشاف روابط تجارتی میان دو کشور است و تنها برای کمک های بین المللی بیشتر سعی نمی کند.

حامد کرزی به تلویزیون روسیه گفت، به نزدیکی روابط میان افغانستان و روسیه نیاز می باشد. به گفته وی به این نزدیکی نه تنها از لحاظ کمک روسیه با افغانستان در زمینه بازسازی این کشور و بالا بردن ظرفیت ها در نهاد های آن، بلکه برای تجارت و سرمایه گذاری نیز نیاز می باشد.

وی هم چنین در برابر اتهاماتی که حکومتش اقدامات کافی را برای جلوگیری از قاچاق مواد مخدر به روسیه و سایر کشورهای اروپایی انجام نداده، از خود دفاع کرد.

رییس جمهور کرزی گفت: " اگر ما توان جلوگیری انتقال مواد مخدر از افغانستان به سایر کشورها را می داشتیم، بدون شک این کار را می کردیم و در چنین وضعیت تاسف باری که امروز هستیم، نمی بودیم."

اتحاد شوروی سابق در سال ۱۹۷۹ افغانستان را اشغال کرد که با مقاومت مجاهدین در این کشور رو به رو شد.

بعد از یک دهه جنگ خونین، قوای شوروی مجبور به عقب نشینی از افغانستان گردید.

ص۲

## کاخ سفید: به هیچ وجه زندان گوانتانامو را تعطیل نخواهیم کرد

قصر سفید در تازه ترین اطلاعیه خود، تاکید کرد که تعطیلی گوانتانامو در آینده نزدیک ممکن نیست.

به گزارش آژانس خبری از میدل ایست آنلاین، با وجودی که نزدیک به یک سال از وعده اوباما مبنی بر بستن زندان گوانتانامو می گذرد، سخنگوی وی اذعان کرد؛ موانع حقوقی و قانونی وجود دارد که از بستن این زندان در آینده ای نزدیک جلوگیری می کند.

رابرت گیتس وزیر دفاع امریکا، در مصاحبه با یک برنامه تلویزیونی تاکید کرد؛ این زندان (برخلاف وعده اوباما) در ماه آینده بسته نمی شود، این در حالی است که یکی از وعده های اوباما قبل و بعد از پیروزی در انتخابات، بستن گوانتانامو بود.

تاکنون تنها ۳ تن از ۱۷۴ زندانی این زندان به طور رسمی محاکمه و مجرم شناخته شده اند و این زندان همچنان با وجود مخالفت های خارجی و داخلی در امریکا، به کار خود ادامه می دهد.

این آژانس خبری درادامه می نویسد: قانون گذاران جمهوری خواه امریکا، اختصاص بودجه پنتاگون جهت جابجایی زندانیان به ایالت متحده و یا انتقال آنها به کشورهای دیگر را تائید نکردند .



گفتنی است، گوانتانامو در جنوب شرقی جزیره کیوبا قرار دارد و در اختیار ارتش امریکا است. این زندان پس از اشغال افغانستان در سال ۲۰۰۱ تشکیل شد و از آن به عنوان نماد دولت بوش در "مبارزه با تروریزم" یاد می شود. در این زندان بسیاری از زندانیان در اثر شکنجه های غیر انسانی و رفتارهای وحشیانه زندانبانان، جان خود را از دست دادند.

## جمعیت بی خانمان‌های امریکایی رو به افزایش است

در حالی که جمعیت بی خانمانهای امریکا در سال ۲۰۰۹ بیش از ۳ درصد رشد داشته است بحران بخش مسکن در امریکا همچنان باعث افزایش تعداد این گروه در سال ۲۰۱۰ شده است.

به گزارش خبرگزاری فارس به نقل از پرس تی وی اتحادیه ملی بی خانمانی امریکا در تازه ترین گزارش خود اعلام کرد آثار منفی بحران مالی و اقتصادی ۲۰۰۸ همچنان در امریکا وجود دارد و موجب افزایش تعداد بی خانمانهای این کشور می شود .

بر اساس این گزارش جمعیت بی خانمانهای امریکایی در سال ۲۰۰۹ نسبت به سال ۲۰۰۸ بیش از ۳ درصد رشد داشته است.

ص۳

## مجلس نماینده گان به کدام تاریخ افتتاح خواهد شد؟

مولوی صدیق الله "حقیق" رییس محکمه خاص رسیده گی به ادعا های کاندیدان معترض دور دوم انتخابات ولسی جرگه به روز چهار شنبه ۲۹دلوسال روان خورشیدی در یک کنفرانس خبری در حضور کاندیدان معترض گفت، رسیده گی به بیش از ۴۰۰ دوسیه شکایات کاندیدان معترض می رساند که تقلبات گسترده یی در جریان انتخابات صورت گرفته و فرصت کافی ضروت است که این دوسیه ها با شفافیت ارزیابی شود. بناً از رییس جمهور کرزی تقاضا نمود تا افتتاح شورای ملی را تا یک ماه دیگر به تعویق اندازد. وی در این مورد گفت:" محکمه با در نظر داشت مصالح علیای کشور و بخاطر شفافیت کار، تامین عدالت و حرمت به وکلای موفق و معترض، لازم می داند که جناب رییس جمهور افتتاح شورای ملی جدید را حد اقل برای یک ماه به تعویق اندازد، آنهم در صورت همکاری همه جانبه با محکمه صورت گیرد." به تعقیب این حکم محکمه ویژه، حامد کرزی رییس جمهور افغانستان دستور داد که افتتاح ولسی جرگهء جدید برای یک ماه دیگر به تعویق بیافتد. این دستور بعد از آن داده شد که محکمهء اختصاصی در کابل خواهان وقت بیشتر به خاطر رسیده گی به اتهامات تقلب در انتخابات شد. قرار بود ولسی جرگه در سوم ماه دلو یعنی فردا افتتاح شود. اکنون نظر به فرمان

ص۳

## ناټو ځواکونو د ارغنداب یو کلی پوپناه کړی!

د استرالیا ډیلي مېل ورځپاڼې په پرونۍ ګڼه کې د کندهار د ارغنداب ولسوالۍ د یوه کلي عکسونه چاپ کړي او ویلي یې دي چې پر دغه کلي ایتلافي ځواکونو پنځه ویشت(۲۵) ټنه بمونه غورځولي دي.

ورځپاڼه کلی تر بمبارۍ وړاندې او وروسته ښیي او د افغانانو د زړونو د خپلولو لپاره د نړیوالو ځواکونو د هلوځلو ادعا ترپوښتنې لاندې راولي.

ډیلي مېل وایي چې په ارغنداب کې د تاروک کولچې کلی وروسته له دې یومخ له منځه لاړ چې د ډګرجنرال ډیویډ فلاین تر قوماندې لاندې عملیات په دې کلي ترسره شول.

راپور وایي چې طالبانو په دې کلي کې مورچه نیولې وه او له ایتلافي ځواکونو سره یې جګړې ته دوام ورکاوه. خو وروسته چې د دې کلي د نیولو لپاره دوې حملې وشوې او سره له دې چې دواړو خواوو ته مرګ ژوبلې واوښتې، د ډګرجنرال فلاین تر قوماندې لاندې ځواکونه ووېرېدل چې

۳مخ

## نوې ولسي جرګه د سیاسي کړکیچ په لومو کې!

۲

## د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

### سرمقاله

## د کابل د ژوند چاپېریال په یوه بله بلا کې ښکېلېدونکی دی!

له دې سره سره چې په کابل کې په دې وروستیو کې د ژوند د چاپېریال د خرابوالي په هکله ګڼې ستونزې او اندېښنې راپورته شوي او د کابل ښار د هوا او چاپېریال د ناوړه حالت انځورونه په کې شوي، یو بله داسې جدي او مهمه ستونزه هم پرې وراضافه شوه، چې د دغو اندېښنو او ستونزو کچه یې لاپسې لوړه کړه او د دې له مخې اوس نو په کابل ښار کې ژوند کول ډېر ستونزمن برېښي او ان په دې ښار کې ژوند کول له مرګ سره لوبې کولو ته ورته شوي. دا په دې مانا چې د دې ښار د هوا او چاپېریال د چټلوالي او خرابوالي کیسه دې ته ورسېده، چې دولت په کابل ښار کې د لوګیو او ډېرېدونکې چټلې هوا د کمښت په موخه د اوونۍ یوه ورځ یاني پنجشنبه رخصتي اعلان کړه. حال دا چې په دې ښار کې اوسمهال تر ټاکلې اندازې یو پر څویمه برخه انسانان او وسایط زیات شوي دي او د دې ښار د هوا او چاپېریال پر خرابوالي یې لوی اثر غورځولی دی او د ښار چاپېریال یې له ګڼو ستونزو سره مخ کړی دی. په دغو ستونزو او لاملونو کې ځینې یې داسې دي، چې دولت په لوی لاس ورته زمینه برابرې کړې او د مخنیوي په برخه کې یې جدي هڅې نه کوي، لکه د خرابو تېلو کارول، لوګي لرونکو توکو استعمال، د برېښنا نه شتون او یا د برېښنا لوړې بیې، چې له املې یې خلک نورو غازونو، تېلو او لرګیو ته مخه کوي او ځینې نور. خو ځینې ستونزې داسې جدي او خطرناکې دي، چې له منځه وړل یې د دولت لپاره هم اسانه خبره نه ده او د چاپېریال او ژوندانه لپاره هم تر ټولو خطرناکې او ګواښونکې ښکاري. له دغو ستونزو څخه یوه هم تر ځمکې لاندې اوبو خرابوالی دی، چې د ګڼ شمېر خلکو اندېښنې یې راپارولي دي. پرون ازادي راډیو یو راپور خپور کړ او ویې ویل، د افغانستان د کانونو وزارت د چاپان د جایکا د موسسې په مرسته په دې اړه یوه مطالعه کړې چې د کابل د حوزې د ځمکې لاندې اوبو حالت یې داندېښنې وړ بللی او د مخنیوي لپاره یې د جدي هلو ځلو غوښتنه کړې ده.

د مطالعې په راپور کې راغلي چې د کابل د حوزې تر ځمکې لاندې اوبه د کمیت او کیفیت له پلوه کمې شوي او له هغو څخه د ګټې اخیستنې اوسنۍ لارې چارې د دې ستونزې له لویوعواملو څخه دي.

د کانونو وزارت ویاند جواد عمر ویلي: په غیر سټنډرډ توګه له اوبو څخه ګټه اخیستل، په خپلسري توګه داوبو او سفتیک ځاګانو ایستل، دا له هغو مهمو عواملو څخه دي چې د کابل اوبه یې له یوې له کمې پلوه تر پوښتنې لاندې راوستي، چې پرته له شکه د نفوس زیاتوالی یې هم د کمښت سبب شوی او له بله پلوه تر ځمکې لاندې اوبو د تخریب او ککړېدو سبب هم شوي دي.

د جایکا په مرسته په ترسره شوې مطالعه کې چې له ۱۳۸۵ کال نه پیل او په ۱۳۸۹ کال کې پای ته رسېدلې، خبرداری ورکړل شوی چې که چېرې د کابل د ځمکې لاندې اوبو د کمښت او د ککړېدو مخه ونه نیول شي، نو دغه ستونزه به دومره جدي شي چې هواری به یې ناشونی کار وي.

په دې توګه باید ووایو، چې د ځمکې د سر ستونزې یو څه اسانه هوارېدای شي، خو تر ځمکې لاندې هغه یې بیا ستونزمني دي او پخپله تر ځمکې لاندې ستونزې هم د ځمکې د سر له ستونزو څخه منځ ته راځي. نو د دې لپاره چې ابدي او تلپاتې ستونزې یاني هغه ستونزې چې د مېلیونونو انسانانو ژوند له ګواښ او خطر سره مخ کولای شي، له منځه یوسو، نو باید لومړی هغه ستونزې او خنډونه چې دا ډول ستونزې زېروي له منځه یوسو او هغه د ځمکې د سر ستونزې دي او که چېرې هوارې او له منځه لاړې نه شي او دولت په دې برخه کې جدي اقدامات ونه کړي، نو دوی به مېلیونونو انسانانو له ژوند سره لوبې کړې وي، هم به د خدای او هم به د ولس پر وړاندې مسوول وي.

# نوې ولسي جرګه د سیاسي کړکیچ په لومو کې!

میوند

د ټاکنو پر سر روانه لانجه یا بحران اوس تر دې حده رسېدلی، چې نژدې پر یوه لوی سیاسي بحران بدلېدونکی دی. دا ځکه چې د ولسي جرګې د دویمې دورې په ټاکنو کې داسې درغلی وشوې، چې ټاکنې څه، چې ان د ډیموکراسۍ ارزښتونه او اصول یې هم په دې هېواد بې ارزښته او تر پوښتنې لاندې راوستل. په دغو لانجمنو ټاکنو کې نه یوازې د زورواکانو او سیاسي کسانو له خوا درنې درغلۍ وشوې، بلکې د ټاکنو پر کمېسیون هم د معترضو نوماندو او د لوېې ځارونوالۍ له خوا تورونه پورې شول، چې په ټاکنو کې یې درنې درغلۍ کړې دي. دا د درغلیو مسئله دومره توده شوه، چې لوېې ځارنوالۍ خو یې د باطلېدو غوښتنه وکړه. بلاخره مسئله سترې محکمې ته ورسېده، سترې محکمې د ځانګړې محکمې وړاندیز وکړ او بلاخره دا محکمه جوړه شوه او پر کار یې پیل وکړ. خو له دې ټولو سره سره د ولسي جرګې د دارالانشاء د بریالي نوماندو لپاره د پېژندګلوۍ اونیز پروګرام پیل کړ. دا پروګرام په داسې درشل کې پیل شو، چې ټاکل شوې وه د سلواغې پر لومړۍ نېټهٔ به ولسي جرګه پرانېستل کېږي، خو روسیې ته د ښاغلي کرزي سفر دا نېټه دوې ورځې نوره هم شاته وغورځوله. په همدې حال کې د پېژندګلوۍ اونیز پروګرام پر وروستۍ ورځ داسې راپورونه خپاره شول، چې د ټاکنیزو شکایتونو د څېړلو ځانګړې محکمې له ولسمشر نه وغوښتل چې یوه میاشت وروسته دې نوې ولسي جرګې پرانیستلو لپاره وروستۍ نېټه وټاکله او ویې ویل چې نور به د ولسي جرګې د پرانیستلو وخت ونه ځنډوي. په همدې حال کې د نویو بریالیو وکیلانو لپاره د پېژندګلوۍ اونیز پروګرام پر وروستۍ ورځ یو او ویې ویل چې دوی د ځانګړې محکمې غوښتنې او د ولسمشر کرزي موافقې ته درناوی نه کوي او له مخکینۍ اعلان سره سم د جنورۍ په درویشتمه به په ولسي جرګه کې پر خپلو څوکیو کښېني.

وروسته له دې چې په ستره محکمه کې د ټاکنیزو درغلیو د قضیو د څېړلو لپاره جوړې شوې ځانګړې محکمې له ولسمشر کرزي څخه وغوښتل چې د ټاکنیزو ټګیو برګیو او درغلیو د څېړلو لپاره لږ تر لږه یوه میاشت نور وخت ورکړي، کرزي د کب درېیمه د نوې ولسي جرګې د پرانیستلو لپاره وروستۍ نېټه وټاکله او ویې ویل چې نور به د ولسي جرګې د پرانیستلو وخت ونه ځنډوي. په همدې حال کې د نویو بریالیو وکیلانو لپاره د پېژندګلوۍ اونیز پروګرام پر وروستۍ ورځ یو شمېر وکیلانو پرېکړه وکړه، چې د ځانګړې محکمې پرېکړه نه مني او د سلواغې پر درېیمه به ولسي جرګه پرانېزي. دوی په ډېر قاطعانه ډول ټینګار کاوه، چې که ولسمشر او مرستیالان یې راځي او که نه مور به خپل کار پیلوو او نور هېڅکله هم نه غواړو، چې مور او ملت د سیاسي لوبو ښکار وګرځو. له بدخشان څخه بریالي اعلان شوې کاندیدې فوزیې کوفي، چې د ټاکنو پر ورځ یې تر ټولو وړاندې د پراخو درغلیو شکایتونه کول، فرانس پریس خبري اژانس ته ویلي: «مور فیصله کړې چې که ولسمشر جرګه پرانیزي یا یې نه پرانیزي. مور د یکشنبې له ورځې جرګه پرانیزو او خپل کار پیلوو.» دې همداراز وویل چې که په دې کار کې نور ځنډ راشي نو سیاسي بحران به رامنځته شي. د جرمني خبري اژانس ډي پي اې وایي چې په درو کې دوو برخو بریالیو اعلان شویو کاندیدانو د پنجشنبې په ورځ په کابل کې په خپل منځ کې موافقه وکړه چې د ولسمشر له حضوره پرته به ولسي جرګه راتلونکې اوونۍ پرانیزي. دوی وویل د جنورۍ ۲۳ مه د یکشنبې ورځ په خپله ولسمشر ټاکلې وه، ځکه دوی غواړي چې په دغه ورځ خپل کار

۳مخ

# در حاشیه سفر رییس جمهور کرزی ...

**اما روابط میان کابل و مسکو پس از سقوط رژیم طالبان و روی کار آمدن نظام جدید در افغانستان رو به انکشاف بوده است. مسکو و ناتو در ماه نومبرسال گذشته میلادی روی انتقال محموله های نظامی غرب از راه روسیه به افغانستان توافق کردند.**

**حامد کرزی به اتفاق هیئت همراه از اتاق بازرگانی و صنعتی روسیه نیز بازدید کرده و با نمایندگان محافل تجاری روسیه نیز دیدار نمود. رییس جمهور روسیه اعلام کرد که مسکو امکان احداث نیروگاه های آبی در افغانستان را بررسی می کند. وی طی کنفرانسی مطبوعاتی در کرملین بعد از مذاکراتی با "حامد کرزی" همتای افغان خود دیروز یادآوری نمود که کمپنی های روسیه در مدرنیزاسیون نیروگاه آبی "ناگلو" و ساخت تاسیسات کم توان انرژی در مناطق صعب العبور کوهستانی افغانستان شرکت می کنند. وی گفت: " ما امکان شرکت روسیه در احداث نیروگاه آبی جدید در دیگر ولایت های افغانستان را بررسی می کنیم. این فقط یکی از موضوعاتی است از نظر ما در حال حاضر مبنای اقتصادی مناسبی دارند".**

**وی همچنین اطلاع داد که طی سالیان اخیر تبادلات کالا میان دو کشور چهار برابر افزایش یافته و به نیم میلیارد دالر می رسد. وی گفت: "این نشانه خوبی است و ما خواستار آنیم که این روند توسعه در آینده نیز ادامه یابد".**

**همچنان رشید نورگلییف وزیر داخله فدراسیون روسیه در ملاقات با همتای افغان خود بسم الله خان محمدی در این سفرآماده گی وزارت داخله روسیه را به فعالیت های مشترک با وزارت داخله افغانستان به منظور ثبات اوضاع در این کشور تائید کرد.**

**به نوشته خبرگزاری "ریا نووستی"، توافقنامه هایی بین حکومتهای افغانستان و روسیه در مورد همکاریهای اقتصادی و تجاری پس از مذاکرات سران دو کشور در کرملین امضا گردیده است.**

**این توافقنامه به ویژه تشکیل کمیسیون مشترک دوجانبه را مد نظر دارد.**

**رؤسای جمهود دو کشور پس از انجام گفتگوها همچنین بیانیه مشترکی را نیز صادر کردند.**

**آگاهان امور سیاسی و اقتصادی این سفر آقای کرزی را به روسیه سودمند تلقی نموده اند.**

## جمعیت بی خانمان‌های...

**. تعداد خانواده های امریکایی بی خانمان نیز در این مدت با رشد ۴ درصدی روبرو شده است .**

**بر اساس این گزارش بیکاری، دریافت اخطار بی خانمانی، پایین بودن درآمد و افزایش هزینه اجاره مسکن مهمترین علل افزایش تعداد بی خانمانهای این کشور شده است . بر این اساس ایالتهای کالیفرنیا، نوادا و فلوریدا بالاترین تعداد بی خانمانها را دربین سایر ایالتهای امریکا در آینده خواهند داشت .**

**بحران بخش مسکن در امریکا همچنان ادامه دارد و به علت بیکاری بالا و پایین بودن درآمدها بسیاری از مردم قادر به پرداخت اقساط وام مسکن خود نیستند .**

**بر اساس گزارش موسسه آمار امریکا بیش از ۴۷.۸ میلیون نفر در این کشور در فقر زنده گی می کنند که این رقم در ۵۰ سال اخیر بی سابقه بوده است .**

**موسسه تحقیقاتی تعقیب حقایق نیز اعلام کرد بیش از ۲.۸۷ میلیون واحد مسکونی در امریکا طی سال ۲۰۱۰ به دلیل ناتوانی صاحبان خود از پرداخت اقساط شان اخطار بی خانمانی دریافت کردند.**

**بر اساس این گزارش ۲.۲۳ درصد از واحد های مسکونی در امریکا در سال ۲۰۱۰ اخطار بی خانمانی در یافت کردند که این رقم معادل یک خانه از هر ۴۵ خانه در امریکا است . این رقم در سال ۲۰۰۹ نیز به بیش از ۲.۲۱ درصد رسیده بود . البته روند بی خانمانی مردم امریکا در سه ماه اخیر ۲۰۱۰ نسبت به ماههای قبل کندتر شده است.**

## څه د پاسه پنځه میلیونه ...

تریاک، هیرویین او شراب او همدارنګه د ښار له درملتونونو څخه په پنډو پنډو تر وخت تېرې ډول ډول دواوې راټولې او سوځول کېږي، دا هم معلومه نه ده، چې له همدې دواوو څه چې مختلف کیمیاوي مواد سره یو ځای شوي دي، د سوځېدو په صورت کې دود او لوخړې پورته کېږي، کوم ګازونه تولید او د دې ښار هوا ته په سوغات ورسپارل کېږي.

که دا واړه ناخوالې سره راټولې او یو ځای یې سره راونغاړونو دا را ښیي، چې همدا د کابل په ښار کې څه د پاسه پنځه میلیونه هستوګن انسانان په همدې ښار کې د بیچاره ګي له کبله یرغمل او په تپل شوي ځنډني مرګ باندې ګوابلي دي.

اوس خبره داده، چې له همدې تپل شوي ځنډني مرګ څخه د خلاصون لاره هم شته که څرنګه؟

که د دې ښار ښاروالي زړه وسوځي او د ستونزې د ببرني حل په خاطر تر هغه وخته چې د ښار ټولو واټونه کریږ کوي هره ورځ د سهار پر (۶) بجو او د غرمې پر (۱) بجه د ښار ټول واټونه ښه مزغن اوپاشي کړي، آیا له ښاره به داد خاورو او دوړو خپور چتر ایسته نه شي؟

که هغه په لسګونو ډېرې لوېې او غټې کثافت دانې چې د تنظیف او سرسبزۍ د ریاست له اړخه له میاشتو را په دې خوا سر په سر سره ذخیره شوي دي، د ښار په مختلفو لازمو ځایونو کې ځای پر ځای شي او پر ټاکلو وختونو تخلیه او ناپاکي یې له ښاره د باندې وایستل شي، آیا په ښار کې به د ناپاکیو او چټلیو د سیل لمنه ټوله نه شي؟

که له یوه پلوه د ښار په مرکزي ګنوګونو برخو کې د سهار له اتو بجو بیا د مازدیګر تر ځلورو بجو پورې شخصي ګرندي موټرونو او ښاري باروړنې موټرونو ته د ګرځېدو اجازه ور نه کړل شي، همدارنګه د رخصتۍ په ورځو کې بیا همدا موټرې آزاد او په مقابل کې ټول دولتي موټرونه، بهله رسمي دندې نظامي او په خارجي موسسو پورې اړوند موټرونه په ښار کې د رخصتۍ په ورځو د ګرځېدو اجازه ونه لري او په قطعي توګه لینې غټې موټرونه، لارۍ، ټانکرونو او بسونو ته په دننه ښار کې د تګ راتګ اجازه ور نه کړل شي، له بل پلوه د ښار د ننه فرعي واټونه کریږ شي څو له عمومي واټونو څخه پر همدې فرعي واټونو موټرونه ووېشل شي، آیا په دې صورت کې به په ښار کې د موټرونو زیاتو ګنډه ګونډه او د هوا چټلتیا راکمه نه شي؟

دا چې پر مختلفو وختونو د مختلفو اړوندو ادارو له خوا پرېکړې شوې دي، چې د کابل په ښار کې دې د ټولو غټو او وړو جنراتورونو فعالیت بند کړل شي. که همدا اداري، مقامونه او چارواکي یوازې په پرېکړو بسنه ونه کړي او د خپلو پرېکړو پلې کېده هم خپله دنده وبولي او همدارنګه نانواییو، حمامونو او د خښتو د پخولو دابونو ته لارښوونه وشي، چې تر ډېره د ګاز او د ډېرې اړتیا په صورت کې د سون له هغو توکو څخه کار واخلي، چې زیاتې تاوانې لوخړې و نه لري، آیا په دې صورت کې به د ښارو هوا ته د زیانمنو غازونو له خپرېدو څخه تر یو حده مخنیوي نه وي شوی. که هغو نشه یي توکو او تر وخت تېرې دواوې چې سوځل کېږي د دې لپاره چې بیا خلک استفاده ځنې و نه کړای شي، له یوې اندازې خاورو سره یو ځای داوړو تر ژرندې وایستل شي، او بیا تر خاورو لاندې او ښخ کړل شي د ښار د هوا د پاکوالي سره به مرسته نه وي شوې؟ که په ښار کې نوي جوړ شوي لښتي او ویالې پاکې وساتل شي او د ښار د هغو لویو لښتیو سره چې د ښار خوسا اوبه له ښاره د باندې باسي ونښلول شي، په ښار کې به د خوسا اوبو په ډنډونو کې کمی رانه شي؟ د پام وړ خبره خو اوس داده، چې که له همدې انساني ناتار څخه د همدې ښار د خلاصون لپاره د ښار داوسېدونکو په ګډون ټولې اړوندې اداري، مقامات او څانګې لاس سره ورکړي او زمور د پورتنیو وړاندیزونو د پلي کېدو او د ښار د سمسورو او شنو ساحو د پراختیا په اړوند متې سره ورکړي حتماً تر ټاکلي حده پورې په دې ښار کې د همدې راغلې انساني فاجعې مخنیوی کېدای شي. خو په دې شرط چې ټول په ګډه پر همدې ښار او په همدې ښار کې پر مېشته انسانانو یو رښتیانی زړه سوی ولري لکه څرنګه چې د دري ژبې یو متل وایي: ((اګر دل بسوزد چشم کور هم آب می دهد.))

## مجلس نماینده ګان به ګدام...

**ریاست جمهوری افتتاح مجلس نماینده ګان تا تاریخ سوم ماه حوت سالجاری، به تعویق افتاده است.**

**عبدالله عبدالله از مخالفان سیاسی عمدهء رییس جمهور کرزی در صحبت با خبرګزاری رویترز، ایجاد این محکمه را غیر قانونی خوانده است.**

**وی ګفت:« این کار برای مردم افغانستان بسیار مایوس کننده است. این اقدام غیر قانونیست و تخطی آشکار از قانون اساسی افغانستان پنداشته می شود .**

**قرار فیصله هیات موقت اداری شورای ملی، اعضای برندهء ولسی جرګه این تعویق را نپذیرفته و اصرار دارند که مجلس نماینده ګان را به تاریخ قبلا تعیین شده یعنی سوم دلو افتتاح خواهند نمود.**

**میرویس یاسینی یکتن از نامزدان کامیاب، به رویترز ګفته است که:" ما نماینده ګان ملت هستیم و ولسی جرګه را روز یکشنبه یعنی فردا افتتاح خواهیم کرد."**

**هم چنان فوزیه کوفی یکی از کاندیدان برندهء انتخابات ولسی جرګه افغانستان ګفت که نامزدان برنده در انتخابات ۲۷ سنبله ولسی جرګه افغانستان روز پنجشنبه گذشته تاکید داشتند که هفته آینده این نهاد قانون ګذار را افتتاح خواهند کرد.**

**وی افزود که نماینده های مردم در پارلمان به اتفاق آراء فیصله کردند که به اساس تعهد قبلی رییس جمهور، پارلمان باید به تاریخ سوم دلو به کار خود آغاز کند. ما امیدوار هستیم که هیچ نوع معضلهء سیاسی به روز یکشنبه برای افتتاح پارلمان وجود نداشته باشد و رییس جمهور و یا معاونین رییس جمهور مطابق به حکم قانون در این مراسم اشتراک کنند."**

**انتخابات ولسی جرګه که به تاریخ بیست و هفتم سنبله امسال برګزار ګردیده بود، اعلام نتایج نهایی اش چندین ماه را در بر ګرفت، اکنون سوالاتی نزد مردم و جهانیان ایجاد ګردیده که سرانجام ولسی جرګه چه وقت افتتاح و بکار خود آغاز خواهد کرد؟**

## ناټو ځواکونو دارغنداب ...

د کلي د نیولو لپاره د هغه د انارو باغونو ته ننوځي.

د دې بمباري د دقیق وخت او احتمالي تلفاتو په باب ډیلي مېل څه نه دي ویلي. دغه راز یې دې ته هم اشاره نه ده کړې چې د بمباري په وخت کلیوال په خپلو کورونو کې وو او که وتلي وو.

د تاند د راپور پر بنسټ، ایتلافي ځواکونو هم تردې دمه په دې اړه څه نه دي ویلي. تمه ده چې د دې خبر او د دغو عکسونو له خپرېدو وروسته به د سیمې خلک او همدارازایتلافي ځواکونه سپیناوی وکړي.

## نوې ولسي جرګه د سیاسي...

پیل کړي. دا چې د افغانستان له اساسي قانون سره سم د ملي شورا پرانیسته د ولسمشر مسوولیت دی. مېرمن کوفي وایي، سمه ده چې د ملي شورا پرانیستنه د ولسمشر دنده ده، خو کله چې هغه په خپل دې کار کې پاتې راشي، بیا مور مجبور پرو چې دا کار په خپله وکړو، ځکه مور هم د خپل ولس پرورلندې مسوولیتونه لرو.

بلخوا بریالي کاندیدان هم ټول سره په یوه خوله نه دي، په دوی کې هم درز شته، یو لوری د محکمې پرېکړه پر ځای بولي او بل لوری یې له سره نه مني. دا مهال یوه ډله هغه نوماندان چې د تېرو ټاکنو د پایلو له مخې د ټاکنو د کمېسیون له خوا بریالي بلل شوي وایي ولسي جرګه باید د ولسمشر له پخوانۍ ژمنې سره سمه دیکشنبې پرورځ پرانیستل شي. دوی خپل بری قانوني او پر سمو رایو ولړ بولي او وایي د ټاکنیزو درغلیو او سرغړونو لپاره جوړه شوې ځانګړې محکمې بې قانونه ده او له همدې امله یې پرېکړې هم قانوني اعتبار نه لري. ددغو وکیلانو له ډلې څخه احمد بهزاد هم دی، دی پر ښاغلي کرزي تور لګوي چې د ولسي جرګې د پرانیستې مسئله په یوه سیاسي بهیر بدله کړې او پر خپلو سیاسي او شخصي موخو یې راچورلوي. بهزاد وویل د ولسي جرګې د پرانیستې څنډول د هېواد له اساسي قانون څخه سرغړونه ده. ده ګوابلې وکړې چې: ((که د پرانیستې په مراسمو کې ښاغلی کرزی ګډون کوي او که نه خو مور به د یکشنبې پر ورځ ولسي جرګه پرانیزو او د دې کار د پایلو مسوولیت به د ښاغلي کرزي پر غاړه وي.)) خو بلې ډلې بریالیو وکیلانو بیا د دې پر خلاف دریځ نیولی دی. د دغې ډلې په استازیتوب حاجي عبدالخالق وویل په هېواد کې د سیاسي کړکېچ او ستونزو د مخنیوي لپاره دوی پرېکړه کړې چې د ټاکنیزو درغلیو لپاره د جوړې شوې ځانګړې محکمې تر پرېکړې پورې به انتظار کوي. نومورې وایي دوی هم لسګونه وکیلان دي او پخپل منځ کې یې مشر او منشي ټاکلي دي. د ولسي جرګې د پرانیستې مسئله اوس نوره هم پېچلې شوه او که چېرته نیم وکیلان و نه غواړي چې ولسي جرګه پرانیستل شي، نو کېدای شي د محکمې پرېکړې ته هم اړتیا پاتې نه شي او ولسي جرګه لغوه شي. خو سیاسي او حقوقي کارپوهان وایي د قانوني خلاد له منځه وړلو لپاره باید داسې یو ګام واخیستل شي چې ټولو ته د منلو وړ وي. د کابل پوهنتون استاد نجیب الله محمود بي بي سي ته ویلي چې د هېواد سیاسي حالت نازک شوی دی او په وینا یې اوس که ولسي جرګه پرانیستل کېږي او که نه، خو د یوه سیاسي کړکېچ د راتلو شونتیا شته. نو په دې توګه ویلای شو، چې نوې ولسي جرګه اوس په یوه ناڅرګنده پراو کې قرار لري او له یوه سیاسي بحران سره مخ ده، په داسې حال چې حکومت یو څه وایي او خپلې موخې لري، بریالي نوماند بل څه وایي او خپلې موخې لري، نو په دې توګه د حکومت او نوې ولسي جرګې ترمنځ واټن هره ورځ د سیاسي کېدو او بحراني کېدو پلورون دی او که په ګډه (حکومت + نوي بریالي کاندیدان) سره راټول او یوه پر ځای او مناسبه پرېکړه ونه کړي، نو دا جنګ ځپلی او په جنګ کې ښکېل هېواد به نور هم په جګړو او بحرانونو کې رانښکېل شي.

## په سوېل کې د ناټو یو سرتېری...

سرتېري هویت نه دی په ډاګه شوی. بلو پلو د هلمند د نادعلي ولسوالۍ د ټولنیزې شورا غړی او قومي مشر حاجي محمود کاتب د ناپېژاندو وسله والو له خوا ووژل شو. د نادعلي د ټولنیزې شورا مشر حاجي بارکزي پرون (د سلواغې لومړۍ نېټه) وویل، چې حاجي کاتب تېر مابنام لمانځه مهال دوو موټر سایکل سپرو د خپل کور په دروازه کې وواژه او په تېښته بریالي شول. نومورې وویل، په داسې حال کې چې د پېښې ځای د ولسوالۍ د دوانۍ په دریو سوه متري کې موقعیت لري او بل لور ته یې په څو سوه متري کې د پولیسو پوسته هم ځای پر ځای شوې، خو پولیس د حاجي محمود مرستې ته ورونه رسېدل. حاجي بارکزي زیاته کړه، چې د نادعلي د ټولنیزې شورا دغه غړي شخصي دښمني نه درلوده او کېدای شي دوژل کېدو لامل یې په همدې شورا کې غړیتوب وي. د هلمند امنیه قوماندان محمد حکیم انګار هم، د حاجي محمود کاتب د وژل کېدو پېښې تاییدوي او وایي، چې د نادعلي له امنیتي مسوولینو سره په اړیکه کې دی او په دې اړه څېړنې روانې دي. دې پېښې مسوولیت تر اوسه چا په غاړه نه دی اخیستی. نژدې څلور میاشتې وړاندې د همدې شورا یو بل غړی حبیب الله هم، د ناټو په مشرۍ دایساف ځواکونو په هوایي بریدووژل شو. د پژواک د رپوټ له مخې، څو میاشتې وړاندې په ناوه ولسوالۍ کې د ټولنیزې شورا مشر او یو غړی دوسله والو طالبانو له خواووژل شول.

# څه د پاسه پنځه میلیونه یرغمل او پر تپلي مرګ ګواښلي انسانان

ع. رحمن زلال



په هېواد کې د طالبي ناتار د لمڅې له ټولېدو سره جوخت په کلیو، ښارونو او ولایتونو کې امنیتي ستونزو له یوه پلوه او بې روزګارۍ له بله پلوه لاسونه سره ورکړل او پر پرګنو یې د هستوګنې برغولی دومره تنګ کړی دی، چې د خپلې مېنې او ټاټوبي پر ېښودنې ته اړ شوي دي. د همدې اړتیاوو په پایلو کې هغه چا چې د کار او له وطنه څه د وتلو توان درلود د کار کولو او خپلې کورنۍ ته د یوې ګولې ډوډۍ پیدا کولو په تمه په ګاونډیو هېوادونو کې خواره واره شول. هغه چا چې د کار توان درلود خو له وطنه د وتلو توان ورسره نه و او کوچني سیمه ییز پانګوال چې شته یې درلودل، خو پر خپل ټاټوبی یې د خپلو شتو د په کار اچولو شونتیا نه درلوده، د مرکز (د کابل ښار) په لوري یې مخه وکړه. له همدې کبله د هغه (کابل ښار) راګېر دی او داسې راګیر دی، چې پرون په همدې ښار کې د یوې انساني فاجعې د راپېښېدو وړاندوینه کېدله خو نن د همدې ېبلګې د سر په ستر ګو لېدل کېږي، لکه څرنګه چې د خدمتګار ورځپاڼه په خپل د (۱۳۸۹) د مرغومي د (۲۰) مې نېټې د دوشنبې ورځې په ګڼه کې د یو لړ چارواکو او پوهانو څرګندونې داسې را په ګوته کوي!

ښاغلی نجیب الله (یمین) د چاپېریال د اداري مسلکي مرستیال وایي، چې ځینې سوداګر په تیلو کې او به ګډوي او د دې لپاره چې کیفیت یې خراب نه شي، بیا د سر بو مرکبات ورسره یو ځای کوي. په همدې هکله د کابل د پولي تکنیک پوهنتون استاد پوهاند ډاکتر حکیمي وایي، چې د سر بو عضوي وروستیو احصاییوي ارقامو له مخې چې د حکومتي اعتبار وړ سرچینو له خوا ورکول کېږي، د کابل په ښار کې، په هغه کې چې نیمه پیړۍ مخکې لکه څرنګه چې د یو پلازمېنې ښار سره لازم وي، د یو میلیون انسانانو د ژوندانه لپاره لازمې وړتیاوې نه درلودې. اوس په همدې ښار کې څه د پاسه پنځه میلیونه انسانان اوسېږي. دا څرګنده خبره ده، کوم ښار چې د یو میلیون انسانانو د ژوندانه لپاره لازمې وړتیاوې نه لري، هلته څه له پاسه پنځه میلیونه انسانان هستوګن شي که مور وغواړو که ونه غواړو هغه ښار په حتمي توګه د انسانانو د ژوندانه لپاره خپلې ټولې لازمې وړتیاوې له لاسه ورکوي، چې په همدې لومه کې اوس زمور دا پلازمېنه منې او وایي چې د تنفسي جهاز ناروغۍ په هېواد کې مخ په پراخېدو دي او څرګندوي، چې تېر کال د هېواد په کچه د نومورې ناروغۍ (۳۸۰) زر او سږ کال تراوسه (۴۸۰) زره واقعې ثبت شوې دي. څرنګه چې روانه وضعه لېدل کېږي، داسې انګېرنه کېدای شي چې ممکن د کال تر آخره دا رقم (۶۰۰) زرو ته ځان ورسوي.

همدا اوس د کابل ښار په ټولو ټانکونو کې یو قسم مواد په سر بنده بوتلونو کې د (تیل پاک کن) په نامه خرڅېږي، چې وایي کله چې عادي پترولو ته ورولوېږي، سوپر پترول ترې جوړېږي، دا څرګنده خبره ده، چې د پورتنیو څرګندونو له مخې همدغه (تیل پاک کن) هم هغه د سر بو مرکب دی، چې مرکب (تیترا میتایل) د تیلو کیفیت لوړوي. د نومورې په وینا کله چې دغه مرکب په هوا کې خپور شي هوا ککړه وي. حکیمي زیاتوي، چې دغه مرکب د جنسي کمزوریو تر څنګ نورې ستونزې هم راپیدا کوي، همدارنګه د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي استاد ښاغلي محمد افضل عمري اضافه کوي او وایي، چې کله د دغه فلزاتو ذرات په هوا کې خپاره شي، پر تنفسي جهاز او کرومزم مستقیما ناوړه اغېزې کوي.

د نومورې په وینا دغه ذرات د تنفسي جهاز ټولې ناروغۍ لکه زکام، ریزش، د ستونې درد او تخریش، سالنډي او د ناقصه الخلقه ماشومانو زېږندنه او داسې نورې ستونزې رامنځ ته کوي. د عامې روغتیا وزارت ویاند ښاغلي غلام سخي کاکړ هم دا دوړو له کبله په سپینه ورځ پر واټونو روانو موټرانو څراغونه لګولي دي!

د چټلیو، ناپاکیو او د خوسا شویو خوراکي موادو سېل خو د ښار د کوڅو او هستوګن ځایونو څه د ښار او بازار او آن د جمهوري ریاست د قصر تر لمنو پورې راخپور شوی دی.

د کابل په ښار کې د شخصي ګرځندیو موټرونو لمبر پلیټ تر منفي (۴) یا نې تر څلورو لکو اوښتی دی، کله چې شخصي ګرځندي موټرونه تر (۴) لکو اوښتي وي، نو دولتي موټرونه، پوځي موټرونه، د بهرنیو موسسو موټرونه، ښاري ترانسپورټ، ښاري باروړونکي موټرونه به څومره وي. که دې ټولو ته یو اټکل وکړو، نو داسې انګېرل کېږي، چې په همدې ښار کې چې د یو میلیون انسانانو د ژوندانه لپاره یې لازمې وړتیاوې نه درلودې، اوس یو میلیون موټرونه په کې تګ - راتګ کوي!

د کابل په ښار کې د اټکل په توګه د یو میلیون موټرونو پر دود او لوخړو برسېره همدا اوس ګڼ شمېر غټ او واړه جنراتورونه چالان دي. د نانوایيو، حمامونو او خښتو د پخولو د دانبونو تورې لوخړې د همدې ښار فضا ته ورخپرېږي.

له نشه یي توکو سره مبارزې او د ښار په درملتونونو کې د تر وخت تېرو درملو په اړوند د عامې روغتیا وزارت لټونو د کابل ښار هوا ته یو بل نوی سوغات ډالۍ کړی دی، هغه دا چې له نشه یي توکو سره په مبارزه کې چې کوم مواد یا نې په ټنونو چرس

۳مخ

## کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

**ماده یازدهم: ۲- الف: ممنوعیت اخراج به دلیل بارداری یا مریضی زایمان و تبعیض در اخراج براساس وضعیت زناشویی که در غیر اینصورت مشمول تحمیل مجازات میشود.**

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com